# د تـغیر کـاروان Caravan of Change کـاروان تـغییر

**مطبوعاتي خبرپاڼه** **نېټه: ۱۱ - لړم - ۱۳۹۱**

د "لس ورځي د سولي لپاره" نوښت بریالیتوب، د سولي او ترقۍ لپاره د همکارۍ مؤسسه (CPD) دې ته وهڅوله، ترڅو خپل نوی ۱۹ ورځنی نوښت "د تغیر کاروان" د ۲۰۱۲ د نوامبر ۱ څخه تر ۱۹پرلاره واچوي، چي موخه یې د کوچنیانو او ځوانانو پر وړاندي د تاوتریخوالي او ناوړه ګټه اخیستني مخنیوی دئ. دا نوښت، د نړۍ په کچه د WWSF لخوا پرلاره اچول سوئ دئ، چي CPD هم ورسره همږغې ده. د سولي او ترقۍ لپاره د همکارۍ مؤسسه او همکاري اداري یې په پام کي لري، چي دا نوښت هم د ځانګړو فعالیتونو په ترسره کولو په افغانستان کښي ولمانځي.

د سولي او ترقۍ لپاره د همکارۍ مؤسسه یا (CPD) Cooperation for Peace and Development یوه پر ګټه نه ولاړه او ناپېیلي اداره ده، چي اصلي موخه یې په افغانستان کي د سولي د ټینګښت په اړه د هیوادوالو د ذهنیتونو مثبت لوري ته اړول دي، او غواړي چي دغه مثبت بدلونونه د عدالت غوښتني (اډووکسی)، ظرفیتونو لوړولو، څېړني او اساسي خدمتونو د رسولو له لاري را منځته کړي. همدارنګه سوله او ترقي غواړي، چي د ټولني ګوښه سویو وګړو ( ښځو، ماشومانو، معیوبینو او ځوانانو) او هغو کسانو ترمنځ چي په حکومت، پارلمان او نورو لوړو پوستونو کښي کار کوي یو ارتباطي پُل رامنځته کړي. د سولي او ترقۍ ټولي کړني د افغانستان د نافذه قوانینو او هغو نړیوالو قوانینو او تړونونو په رڼا کي تر سره کیږي، چي د افغانستان دولت د هغو پلي کولو ته ژمن دئ.


د لا زیاتو معلوماتو لپاره زموږ سره په اړیکه کي سئ:

برېښنالیک: cpd.afg@gmail.com

ټیلیفون: 0093 782900946 (یوازي د رسنیزو چارو لپاره)

ویبلاګ: www.cpdo.blog.af

فیسبوک: www.facebook.com/cpd.afg